## ددی لپاره چی د گیلاسو په تولید کی سیال اوسو:

۱ . د گیلاسو هغه نوعه انتخاب شی چی ښه کیفیت یعنی غټه میوه، ښه خوند ولری تر څو د اخستونکی توجه ځان ته راواړوی او همدارنگه د انتقال او ساتولو قدرت ولری.

۲ . د بڼ ښه اداره وشی تر څو ښه کیفیت لرونکی میوه تولید شی، د بڼ لپاره مناسبه ځای انتخاب شی، مناسبه ښاخه بری وشی، د ونی مناسبه تغذیه وشی، د مناسبی مورنی ونی انتخاب او همدارنگه د ونو تر منځ مناسبه فاصله انتخاب شی.

۳ . میوه په ښه توگه د ونی څخه راټوله شی او وروسته د راټولولو په ښه توگه وساتل شی تر څو مصرف کوونکی ته په ښه کیفیت ورسیږی.

د میوی راټولول باید د لاس پواسطه وشی او د میوی ډندوکی ورسره وصل وی. د گیلاسو پخوالی کولای شو د میوی د رنگ، سایز او قند په اساس تشخیص کړو. ددی لپاره چی گیلاس د ډیر وخت لپاره وساتل شی باید د میوی داخلی تودوخی د سړی هوا یا اوبو پواسطه ټیټه شی.

د گیلاس میوه په پلاستیکی قطیو یا (Clamshells) کی وساتل شی تر څو میوه زخمی نه شی او کیفیت له لاسه ورنه کړی.



د گیلاسو د نوی او ښه حاصل لرونکو انواعو په شتون سره د افغانستان د بڼوالانو لپاره یو بی ساری فرصت دی چی نوموړی نوی او کتوره نبات وکری چی اوس د پرمختگ په حال کی دی. په ورته وخت کی د گیلاس د بڼونو کمښت چی د خلکو تقاضا پوره کړی هم د بڼوالانو لپاره یو ښه فرصت دی چی گیلاس وکری.

گیلاس ډیر ښه ورایتی گانی لری او که چیری په داخلی او بیرونی مارکیټ که په ښه کیفیت سره وړاندی شی، بڼوالان ډیر عواید ځنی لاسته راوړلای شی.



**پته:** انډو، د زراعتي کوپراتیفونو تعمیر، بادام باغ، کابل، افغانستان
**ایمیل:** info@afghanistanhorticulture.org
**ویب:** www.afghanistanhorticulture.org
**د اړیکي شمیره:** +93 (0) 202 232 022

دا پروگرام د اروپایي ټولنې لخوا تمویلیږي.

ANHDO

## د افغانستان د بڼوالي د پرمختیا ملي موسسه

د بڼوالۍ د خصوصي سکتور د پرمختگ حمایه کول

# گیلاس

### په افغانستان کی د بڼوالانو لپاره یو نوی او کتور محصول



**پته:** انډو، د زراعتي کوپراتیفونو تعمیر، بادام باغ، کابل، افغانستان
**ایمیل:** info@afghanistanhorticulture.org
**ویب:** www.afghanistanhorticulture.org
**د اړیکي شمیره:** +93 (0) 202 232 022
دا پروگرام د اروپایي ټولنې لخوا تمویلیږي.

# گیلاس

گیلاس یو کلک زړی میوه ده چی د Prunus له جنس څخه ده. گیلاس د یو پیوندی نیالگی په نتجه کی پر مشخص مورنی ونی باندی د مختلفو انواعو د پیوند څخه منځ ته راځی. د گیلاسو ملی کلکسیون چی د بادام باغ په خیرنیز فارم کی موقعیت لری د ۲۲ نوعه گیلاسو درلودونکی دی. د گیلاسو ونی عموما د محالب پر مورنی ونی باندی تکثیر کیږی. د محالب مورنی ونی نسبتا غتی ونی تولیدوی او حاصل یی ډیر وی. گزیلا- ۵ چی د گیلاسو یو بل مورنی ونه ده د ټیټ قد ونه تولیدوی او ژر پر حاصل راځي. د افغانستان د بزغلیو لرونکو ملی موسسه په راتلونکی څو کلونو کی نوموړی مورنی ونه تولید وی.

گیلاس د افغانستان د سړو سیمو لپاره لکه کابل، وردک، پنجشیر، پروان، لوگر او نورو سیمو چی د بحر د سطح څخه لوړ وی یو مناسبه بوټی دی. د گیلاسو د بڼ لپاره باید هغه سیمه وټاکل شی چی بڼوالان وکولای شی خپل محصول په اسانه توگه مارکیټ ته انتقال کړی.



د افغانستان د بڼوالی د پرمختیا ملی موسسه (ANHDO) د گیلاسو د انواعو پرخصوصیاتو کار کوی لکه (د گل کولو وخت، د پخیدو وخت، د میوی فزیکی او کیمیاوی خصوصیات، د ونی خصوصیات او د حاصل اندازه).

ددی کار په نتجه کی یی د گیلاسو داسی انواعی مشخصی کړی چی هم د صادرولو لپاره ښه کیفیت لری او هم په مختلفو وختونو کی پخیږی. هغه خارجی انواعی چی د افغانستان د گیلاسو په ملی کلکسیون کی شته تر څیړنی لاندی دی چی معلومات به یی په نژدی راتلونکی کی د بڼوالانو سره شریک شی.

لاندنی جدول کی د گیلاسو د مختلفو انواعو د پخیدو وخت چی ښه ورایتی گانی، د ښه ورایتی گانو بدیل او هغه ورایتی گانی چی تر څیړنی لاندی دی، ښودل شوی.




سور رنگ :ښه ورایتی گانی

شین رنگ : د ښه ورایتی گانو بدیل

نارنجی رنگ :تر څیړنی لاندی ورایتی گانی

بارلیت، سانتینا، کمپکت ستیلا، بینگ، او سویت هارت سومتار د پخوالی د وخت، د میوی د کیفیت او د حاصل د اندازی په اساس د گیلاسو ښه ورایتی گانی دی.

د افغانستان د بڼوالی د پرمختیا ملی موسسه (ANHDO) د بڼ جوړولو، د حاصل راټولولو، وروسته د راټولولو او بازارموندنی کی بڼوالانو ته مناسبی مشوری ورکوی. د نورو معلوماتو لپاره د محمدولی عادل سره پدی شماره ۰۷۲۹۸۰۴۱۲۳ اړیکی ونیسی.



د گیلاسو ښه انواعی او تصدیق شوی نیالگی کولای شی د افغانستان د بزغلیو لرونکو د ملی موسسی څخه تر لاسه کړی.

د نورو معلوماتو لپاره د ا محمد مظفر ادهر سره پدی شماره ۰۷۰۰۲۳۱۱۰۳ اړیکی ونیسی.

